سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۹ / ۰۵ / ۰۳

# لویه جرګه: د سولې او نوي افغانستان په لور بېساری ګام!

د سولې لويه جرګه په دې موخه پرانيستل شوه چې هېواد کې ځلويښت کلنه جګړه ختمه کړي، هېواد د تلپاتې سولې په لور راهي کړي او افغانان د هېواد په بيا ودانۍ کې په يو ټغر را ټول کړي. دغه جرګې ته د ثور ۹ مه نېټه ځکه په پام کې نيول شوې ښکاري چې دلته د ثور د ۷ مې او ۸ مې پېښو په توپير؛ رامنځته شويو ناخوالو، تربګنيو، جګړو او ويجاړيو ته د پای ټکی کېږدي او د نوي افغانستان د بنسټ ډبره چې هلته تلپاتې سوله واکمنه وي افغانان بيرته يو موټي او د هېواد په بيا رغونه کې بوخت وي، کېښودل شي.
داسې ښکاري چې د ثور د ۹ مې نېټې، د سولې لويې جرګې، د همداسې موخو په ترسره کېدو کې د نوي افغانستان د بنسټ ډبره کېښوده!
۳۲۰۰ تنه د افغان ولس ريښتيني استازي چې ډيری يې د هېواد ځوان قشر، پوهان، د شهيدانو د کورنيو غړي او ميرمنې وې، په پلازمېنه ـ کابل د جرګو په خيمه کې سره جرګه شول او په پنځو ورځو خبرو اترو، يو بل سره په سلا او مشوره يې خپل ۲۳ فقره يز پريکړه ليک يانې د سولې لارنقشه، حکومت ته مخکې وړاندې کړه.
د سولې لويه جرګه په داسې نظم تر سره شوه چې مخکې يې ساری نه وو لېدل شوی. ټولو افغانانو ته دې مبارک او نيکمرغه وي!
**لويې جرګې، تر هر څه مخکې د طالب بنديانو خوشې کول او د دوه اړخيز اوربند وړانديز وکړ.** ځکه چې افغان حکومت اوربند ته ژمن دی، که طالب چاړواکي هم اوربند په تېره بيا د روژې په مياشت کې پلی کړي، داسې چلند به د سولې او نورو اختلافي چارو په اړوند د حکومت او طالبانو ترمنځه د بې باورۍ فضا چې په کور دننه تاکلو کړيو او ځينو بهرنيانو رامنځته کړې او لا ورته لمن وهي، له منځه يوسی. د لويې جرګې يوه موخه هم دا وه چې د حکومت او افغان استازو لخوا، طالبانو سره د خبراترو په اړه د بې باورۍ چاپيرېال ختم کړي او تر نورو لومړيو په دې برخه کې عملي ګام پورته کړي. د لويې جرګې دا وړانديزونه لکه، له هېواده د بهرنيو ځواکونو د وتلو مهالويش؛ سملاسي او دوه اړخيز اوربند؛ طالبانو ته افغانستان کې سياسي دفتر ورکول؛ د اساسي قانون او د ښځو او بيان ازادي؛ د طالب بنديانو خوشې کول او يا تبادله د حکومت لخوا په پراخ تندي ومنل شول او په دې اړه ولسمشر غني هم لويې جرګې ته په خپله اختتاميه وينا کې د پلیتوب ډاډ ورکړ.
ولسمشر غني د ښه نيت او روژې مياشتې ته د درناوۍ په پار «د طالبانو د ۱۷۵ بنديانو د خوشې کولو اعلان وکړ او زياته يې کړه، که طالبان چمتو وي حکومت د اوربند په اړه هم بحث ته چمتو دی.» ولسمشر غني دا هم زياته کړه « له طالبانو غواړم چې کابل يا نورو ولايتونو ته خپل استازي را واستوي، چې دا بنديان ور وسپارو. هغه دا هم وويل، چې د بنديانو خوشې کول يې د روژې ډالۍ ده **او وبه ليدل شي چې طالبان څه ډالۍ لري.»**
لويې جرګې په خپلې پرانيستې او بريالۍ پای سره په طالبانو کې د ځينو متحجرو څېرو او يا په کور دننه د هغو کړيو وړاندويني هم په اوبو لاهو کړې چې يې انګېرله ګنې لويه جرګه، د ولسمشرۍ پير د غځېدو او يا د ټولټاکنو لپاره د کمپاين په موخه تر سره کيږي. منفي پال او بد بين کسان او ډلې تل په تورو عينکو کې پېښو او اشخاصو ته ګوري او هر څه د خپلو شخصي او تنګو ګټو په تله کې تلي!
په دې منځ کې به هغه کسان پښيمانه وي چې ولې يې د لويې جرګې جوړېدو سره، مخکې له مخکې مخالفت وکړ او بې ګودره په اوبو ورګډ شول. لويې جرګې په خپل نظم او پريکړو سره د هېواد د لوړو ارزښتونو او ټولو افغانانو د ګټو په خونديتوب کې ستر ګام پورته کړ او په دې توګه يې د ټولو افغانانو درناوی وکړ.
د اشنا تلويزيون سره مرکه کې ښاغلی حضرت عمر زاخېلوال وايی«د مشورتي لويې جرګې مخالف نه دی، خو جرګه بايد په خپل وخت شوې وای»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

داسي څرګندونې د خلکو د ذهنونو د خړپړولو او د ځان د سپیناوي لپاره ترسره کیږي، ګني د لويي جرګې کومه پریکړه ببوخته ده!
ایا پروسکال د روژې میاشت کې افغان حکومت چې زاخېلوال هغه مهال اسلام کې د افغانستان سفیر وو، اوربند اعلان نه کړ او بیا یې طالبانو ته د غځېدو وړاندیز ونه کړ؟ چا بیا اوربند مات کړ، حکومت که طالبانو؟ ښکاره ده چې طالبانو!!
ویل کیږي چې زاخېلوال په دې وروستیو کې په پټه اسلام اباد ته سفر کړی او داسې څرګندونې د دې سفر سره بې تړاوه نه دي!
افغان حکومت تل د اوربند او سولې په چارو کې لومړی قدم پورته کړی، خو په کور دننه د سولې مخالفین او په طالبانو کې پردی کړی د اوربند او سولې سره مخالفت کوي او شرموونکې دا چې پړه یې هم بیا پر افغان حکومت وراچوي!
د سولې بل مخالف عطا محمد نور بیا وایی، چې خپل پلویان یې لويي جرګې ته د دې لپاره لېږلي ول، څار وکړي چې هلته د ولسمشرۍ مهال ونه غځیږي او د ټاکنو په اړه کمپاین و نه شي. خو پوښتنه دا ده چې د دې دواړو چارو د څار لپاره عطانور باید خپله جرګې ته ورغلی وای او هلته یې خپله اصلي غوښتنه چې سولې سره مخالفت دی، بیان کړی وای!
شف شف ویلو ته څه اړتیا ده!
عبدالله عبدالله هم په لویه جرګه کې د سولې په مخالفت د خبرو د نه جرئت په لامل ترکیې ته وتښتید او د تل پشان یې د«نه منم» لار خپله کړه. که د نورو هغو کسانو څخه چې ځانونه پخپله په افغانستان کې مطرح او بانفوذه کسان بولي، پوښتنه وشي چې تاسو ولې د سولې لویه جرګه بایکاټ کړه، ځواب به یې د عطا نور او عبدالله عبدالله څخه هم تیټ او پرېوتی وي او د شرمېدلو خبرو پرته به، بل څه د ویلو ونه لري!
له بده مرغه، د دې ډلو او اشخاصو څرګندوني او کړه وړه د طالبانو د ځینو متحجرو ککریو څخه چې وایی«د سولې په نوم مشورتي لویه جرګه د حکومت نمایشي ناسته او د ولسمشر غني ناکامه هڅه وه او د روژې میاشت کې جګړه ډېر ثواب لري!»، څه توپیر نه لري. دواړه د یوې سکې دوه مخونه دي او په دواړو ډلو کې د سولې او امنیت مخالفین او دښمنان، پوخ ځایګی لري!
اوس د دې وخت دی، که د سولې د لویي جرګې مخالفین، د جرګې د پریکړو او د سولې لارنقشې څخه بله منلي او ګټوره لارنقشه لري، افغانانو ته دې وښیي او حکومت ته دې وړاندې کړي.
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ